PROPERTY OF ACKU

DAILY اراده

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۱۰۲۵

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یولسم کال – دویمه دوره، ۱۰۲۵ مه گڼه، پر له پسې ۲۱۰۰ گڼه د ۱۳۹۰ ل.د غويي ۳ مه – د شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـق جمادي الاول ۱۸ مه د ۲۰۱۱ د اپریل ۲۳ مه

ناټو د یوه ساختماني شرکت درې کارګران ووژل

د خوست په سپیرې ولسوالۍ کې د بهر نیو ځواکونو په بمبارکې د سړک جوړونې د یو شرکت څلور ساتونکو ته مرګ ژوبله واوښته. په خوست کې د ملک بابا په نامه د سړک جوړونې د یوه ساختماني شرکت مشر فقیرمحمد ځدران د غویي پر ۲مه وویل، چې بهر نیو ځواکونو تېرمابنام په سپیرې ولسوالۍ کې د دوی د شرکت دامنیتي ساتونکو پر یوې پوستې برید کړی. د نوموړي په وینا، په دې برید کې درې ساتونکي وژل شوي

۳مخ

د نهه زره ولسي وګړو وژل یوه لویه تراژیدي!!!



په افغانستان کې یوناما، یا د ملګروملتو د سازمان سیاسي دفتر د هیواد په جنګونو کې پر ښکېلو دواړو اړخونو غږ وکړ چې، په نښتو کې دې د ملکي خلکو د سرومال خوندیتوب ته زیات پام وکړي.

یونما په جنګونو کې د ملکي خلکو په ریاتیدونکو وژنو اندېښنه ښودلې او د مخنیوي لپاره یې د تدابیرو په غوره کولو تاکید کړی دی، د یوناما د دفتر د دبشر د حقونو د ځانګې مشره، ګینو وایي: "په تېرو څلورو کلونو کې کابو نهه زره ملکي خلک د افغانستان په جنګونو کې وژل شوي دي. دا باید هم وویل شي، چې دا شمېره ډېره زیاته ده او مهمه دا چې کال په کال زیاتېږي."

راپور وایي دا وژنې، د ترور، د سړک پرغاړو د ښخ شویو ماینونو، بمباریو، ځانوژونکو بریدونو، د توغندیو په ویشتلو او داسې نورو پېښو کې شوي دي. راپورواي د تیر کال ملکي وژنې د ورځې کال په نسبت په سلو کې پنځلس زیاتوالی ښي.

راپور دا هم وایي، دا وژنې د افغانستان د نورو سیمو څخه په جنوبي سیمو کې زیاتې پېښې شوي دي.

د افغانستان د کورنیو چارو وزارت دا مني چې په بریدونو ملکې خلکو ته زیان رسیدلی خو مخنیوي ته یې نوي تدابیر نیولي دي.

د کورنیو چارو وزارت د اوپراسیون رییس وسیم وایي: "د دې ګواښ پروړاندې د مبارزې لپاره، د کورنیو چارو په وزارت کې د انجینرۍ یوریاست جوړشوی، په ولایتونو اوساحوي مرکزونو کې د هماهنګي مرکزونه فعال شوي، چې د کورنیو چارو او دفاع وزارتونو،

۳مخ

استخبارات پاکستان مورد انتقاد مایک مولن قرار گرفت

یک مقام ارشد نظامی امریکا از ادارهٔ استخبارات نظامی پاکستان، آی.اس.آی به خاطر ارتباط با یک گروه شورشی در افغانستان انتقاد کرده است.

امیرالبحر مایک مولن لوی درستیز امریکا، در دیدار خود از پاکستان در مصاحبه یی با یک شبکهٔ تلویزیونی آنکشوراز ادارهٔ استخبارات این کشور انتقاد کرد.

مایک مولن گفت: او در صحبت هایش با جنرال کیانی از گروه حقانی یاد آوری کرد.

تنش میان اداره های استخباراتی پاکستان و امریکا در جریان امسال پس از آن اوج گرفت که یک قراردادی سی آی ای به نام ریموند دیفیس دو پاکستانی را در شهر لاهور به ضرب گلوله از پا درآورد و گفت آنان می خواستند اشیای او را به سرقت ببرند.

با وجود اینکه پاکستان از جملهٔ متحدین نزدیک ایالات متحده امریکا در جنگ علیه تروریزم می باشد و از این طریق سالانه صدها ملیون دالر به دست می آورد، اما ایالات متحده امریکا از نزدیکی بعضی حلقات استخباراتی پاکستان با بعضی از طالبان مسلح اظهار تشویش می نمایند.

اما بعد از ختم سفرمایک مولن از پاکستان، اشفاق کیانی اتهام لوی درستیز امریکا را رد کرد.

به اساس گزارش روزنامهٔ واشنګتن پست چاپ امریکا، ساعاتی بعد از آنکه مایک مولن لوی درستیز ایالات متحدهٔ امریکا، ادارهٔ استخبارات پاکستان را به داشتن روابط با شبکه حقانی متهم ساخت، جنرال اشفاق کیانی لوی درستیز پاکستان این نظر را رد کرد که گویا پاکستان اقدامات لازم علیه شورشیان و تند رو اسلامی انجام نداده است.

ص۳

زیوګانف: روسیه در آستانهٔ سقوط است

پس از نطق ولادیمیر پوتین نخست وزیر روسیه، گنادی زیوگانف رهبر حزب کمونیست روسیه در جمع نمایندگان مجلس سفلای پارلمان، روسیه را کشوری بدبخت توصیف کرد. به گزارش واحد مرکزی خبر؛ وی گفت در صورتی که تحولی در اوضاع صورت نگیرد آشوب هایی شبیه به آشوب ها در جهان عرب روسیه را فرا خواهد گرفت. زیوگانف که در راس مهم ترین حزب مخالف دولت روسیه قرار دارد اعلام کرد: اگر انتخابات به شیوه معمول برگزار شود در آن هنگام ممکن است اوضاع به سمت آنچه در شمال افریقا اتفاق افتد، متمایل شود. وی که در پارلمان روسیه سخن می گفت این سخنان را خطاب به پوتین که به تازه گی نطق سالانه خود را در برابر نماینده گان ختم نمود، بیان کرد .

وی گفت: براساس آخرین سرشماری روسیه بیش از ۱۴۲ میلیون جمعیت دارد که دو درصد جمعیت جهان را تشکیل می دهد و این درحالی است که یک سوم منابع راهبردی جهانی در کشور ما قرار دارد. وی اقتصاد روسیه را اقتصادی توصیف

ص۳

چاپې اچول او د شپې عملیات ناوړه پایلې لري



چاپې اچول او د شپې له خوا د عملیاتو ترسره کول، هغه څه دي، چې په دې وروستیو څو کلونو کې رامنځ ته شوي. دا چاره چې تر ډېره بریده له وسلوالو مخالفینو سره د جګړې د یوه نوي تکتیک په بڼه راپورته شوې، تر ډېره بریده د دې پر ځای چې د روانې جګړې په پای ته رسولو کې مرسته وکړې، لا یې د جګړې اور تود کړی او په وسلوال مخالفت کې یې د مخالفت نور ځواک هم پیاوړی کړی دی. په افغانستان کې د دې ډول عملیاتو اصلي انګېزه د لوېدیځو پوځونو په بارو د مخالفینو د سم تشخیص او ځپلو یوازې لاره په ګوته شوې ده. یانې دوی فکر کوي، چې د مخالفینو د ځپلو او د هغوی د نیولو، تشخیص او له منځه وړلو لپاره دا یوه غوره لاره ده او پر همدې بنسټ یې تر اوسه پورې پر دې کړنلاره ډېر ټینګار هم کړی دی. سره له دې چې د دوی په وینا په دې کړنلارې سره نور هم د مخالفت لیکې پیاوړې کړې او د خلکو احساسات یې د ځان پروړاندې سخت راپارولي دي. ځکه دوی ډېرې ځله د شپې د عملیاتو او چاپو اچولو په ترڅ کې داسې غیرانساني کړنې ترسره کړي، چې عام ولس یې پر وړاندې سخت غبرګون ښکاره کړی دی. تر کومه ځایه چې مور ته معلومات شته، دوی په دې ډول عملیاتو کې انساني کرامت او انساني اصولو ته ډېر سپکاوی

۳مخ

حملات انتحاری خلاف آموزش های دینی

۲

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سر مقاله

سیمه ییز پولیس د سیمه ییزو ناامنیو زېرنده

له هغه وخته راهیسې چې په افغانستان کې د سیمه ییزو پولیسو د جوړولو لړۍ پیل شوې، ورسره یو شمېر اندېښنې او تشویشونه هم راپورته شوي دي، خو دې اندېښنو هغه وخت واقعي بڼه غوره کړه، کله چې سیمه ییزو پولیسو د دې هېواد په اکثره برخو کې پر خپلو فعالیتونو پیل وکړ او د خپلو فعالیتونو په اوږدو کې یې پر یو شمېر داسې کړو وړو لاس پورې کړ، چې هغه هېڅکله له نظامي نورمونو او موازینو او همدار نګه له پولیسي اوصافو سره سمون نه خوري. دغه ځواک چې په اصل کې په سیمه او سیمه ییزو مخورو پورې اړه لري او د هغوی په خوښه جوړېږي، له ښو هیلو سره ګڼې اندېښنې هم راتوکولې دي. داسې ویل کېږي، چې په دغه ځواک کې بیا هم ډېرې داسې کسانو ځانونه شامل کړي، چې پخواني وسلوال وو او په بېلابېلو پخوانیو وسلوالو ډلو ټپلو پورې یې ارتباط درلود او په دې کار سره دوی یو ځل بیا په رسمي توګه او د دولت په چوکاټ کې وسلو ته لاسرسی پیدا کړی دی. همدار نګه یو شمېر داسې کسان هم د دې پروسې ملګري شوي، چې هغوی په غلاوو، داړه ماریو، شکونو، لاروهنو، وژنو او نورو ناوړو پېښو کې لاس درلود او یا لاس لري او په دې سره غواړي خپل شوم هدفونه ترلاسه کړي او په همدې هدف خو څو واړې سیمه ییزو پولیسو په یادو کارونو باندې لاس پورې کړی او د ګڼو هېوادوالو اندېښنې یې راپورته کړې دي. په هغو سیمو کې چې تر دې مهاله په کې دا ډول پولیس پر دندو ګومارل شوي، که د سیمو له خلکو پوښتنه وشي، نو پنځه نوي سلنه خلک تر ې ناراضه او ناخوښ دي او دا کار د هېواد او خلکو په ګټه نه بولي، چې ښه مثال یې په کندوز، بغلان او یو شمېر نورو ولایتونو کې د عام ولس شکایتونه وو، چې د دوی په اړوند یې درلودل او ویل یې، چې دوی په پراخو ناامنیو کې لاس لري او د سولې پر ځای ورانۍ پېښوي.

زمور په باور او زمور د معلوماتو پر بنسټ هم دا ډول ځواک جوړول د هېواد په ګټه نه دي، ځکه دوی په سیمو کې له بېلابېلو وسلوالو ډلو ټپلو سره یا اړیکي پیدا کوي او که یې غړي وي، نو جرئت پیدا کوي او په راز راز ناوړه پېښو باندې لاس پورې کوي. زمور په باور دا کار د یوې پراخې ګډودۍ او انارشۍ یا ملک الطوایفۍ لپاره زمینه برابروي او د هېواد ملي ثبات او ملي یووالي ته سخت ستر ګوزار بلل کېږي. د دې پر ځای بهتره داده، چې د ملي اردو او ملي پولیسو لیکې پیاوړې شي او د دوی په مرسته د یوه واحد او یو موټي افغانستان ساتنه او دفاع وشي او که نه نو، دا کار ډېر ناوړه عواقب او خطرناکې پایلې لرلای شي، چې خدای مه کړه د رامنځ ته کېدو په صورت کې به بیا ورته د حل لار لټول له امکانه ټېره خبره وي.

خوسټ په ټپر یوه ...

دغه ډول هڅې یوازې د خوست تر مرکز پورې منحصرې نه دي پاتې، بلکې د ښې حکومتداری په موخه د خوست ولسوالی هم په پام کې نیول شوي او د خوست والي ددې ولایت یو زیات شمېر ولسوالیو ته یې سفرونه کړي، شپې یې کړي او د ولسوالیو له ولسونو سره یې له نږدې خپل راتلوونکي پروګرامونه شریک کړي د هغوی، غوښتنې او ستونزې یې غوږلي او په ولسوالیو کې د یوې قومي حکومتداری د رامنځ ته کېدو په موخه د پام وړ کارونه سرته رسولي.

په دې ولسوالیو کې د موسی خېلو، سپرې ځاځي میدان، باک، صبرېو، مندوزیو، تنیو، ګربزو او د دوه منده ولسوالی شاملې دي، چې په دې ولسوالیو کې یې د ګربزو او ځاځي میدان ولسوالی د سولې د ولسوالیو په نومونو اعلان کړې.

هغه د ولسوالیو چارواکو ته لارښوونه کړې، چې د ولسوالیو د خلکو ستونزې باید په ولسوالیو کې حل شي او د خوست مرکز ته باید ددې ارتیا پیدا نه شي، چې د سیمې اوسېدونکي دیوه واړه اداري کار لپاره په ساعتونو ساعتونو لار ووهي، مصرف وکړي او په خوست ښار کې ورته شپې وکړي.

والي په ولسوالیو کې د ټولو اداروd ځانګوd فعالېدو ترڅنګ ټینګار وکړ، چې باید هر ریاست په ولسوالیو کې د ولسونو د ستونزو د حل په موخه خپلې ټولې ځانګې په فعاله او اړوند اداري د ولسونو د ستونزو په حل کې جدي اقدام وکړي.

والي ژمنه وکړه چې په ټولو ولسوالیو کې به متوازنه بیارغونه پلې کړي او دیوه وجود د غړیو په څېر به ټولې ولسوالۍ له هر ډول حقه حقوقو څخه برخمنې کړي.

نوموړي د ولسوالیو له مخورو سره، د پوهنې، روغتیا، کارموندنې او انکشافي پروژو د زیاتوالي په برخه کې ژمنې وکړې. خوست والي د ټولو ولسوالیو ولسوالانو ته هدایت وکړ، چې په هره ولسوالۍ کې باید د ۱۳۹۰ کال په پیل کې ۱۵ زره نوي زده کوونکي ښوونځیو ته لارشي، چې په ټولیزه توګه باید د نوي کال په پیل کې ۵۰ زره نوي زده کوونکي ښوونځیو ته جذب شي. هغه د خوست پوهنتون او په دې ولایت کې ددینې دارلعلوم او مدرسو د کیفیت د ښه والي لپاره څو ځلې په پلازمېنې کابل کې له اړوندو چارواکیو او د بېلابېلو مرستندویه هېوادونو له چارواکو سره لیدلې او په دې برخه کې د یو لړ پورته شویو ګامونو ترڅنګ به نور رغنده ګامونه هم پورته شي.

په خوست ولایت کې د نعیمې په هڅو او د سیمې د خلکو په ملاتړ دښوونځیو سوځول او یا د ښوونځیو بندیدل په بشپړه توګه له منځه تللي.

وخت په وخت د خوست ولایت د بېلابېلو ښوونځیو ښوونکو ته د تدریسي ظرفیت د لوړلو په موخه ورکشاپونه جوړ شوي او زیاتره ښوونکي د زده کړې پر نوي میتود روزل شوي دي.

په خوست کې نژدې نیمایي د زده کوونکو نجونې جوړوي، چې دغه کچه لا د زیاتوالي په حال کې ده. له یوه کال راهیسې یو زیات شمېر کورني او بهرني لوړپوړي چارواکي دغه ولایت د بېلابېلو پرمختګونو او ننګونو د څېړنې په موخه تللي دي.

په دې چارواکو د کورنیو چارو وزارت وزیر بسم الله محمدي، د عامې روغتیا سرپرسته وزیره ثریا دلیل، د ښاري پراختیا وزیر، د ولسمشر سلاکار وزیر یوسف پښتون، د ټولټاکنو د خپلواک کمېسیون رییس فضل احمد معنوي، د سولې د عالي شورا مشر استاد برهان الدین رباني، قاضي امین وقاد، په امنیتي چارو کې د ولسمشر سلاکار معصوم ستانکزی، د سرحدونو او قبایلو چارو وزارت معین یعقوب احمدزی په بهرنیو چارواکیو کې د یونما، د ایساف، د امریکا د سفارت سفیر ایکن بیري، سره صلیب او یو شمېر نور چارواکي شامل وو.

خوست ولایت ته د دغو پلاوو تګ د دې ښکارندویي کوي، چې دغه ولایت امن شوی او هلته یوه داسې اداره رامنځ ته شوې، چې د یادو پلاوو سفرونه تنظیموي، ترڅو په دغه ولایت کې لاسته راوړنې وڅېړي او د دغه ولایت پرمختګ ته ادامه ورکړي. په ټېره یوه کال کې داسې برخه نه ده پاتې، چې هغه دې د خوست ولایت د والي له پامه غورځېدلې وي او یا دې ورته کار نه وي شوی.

په خوست کې یوه دولتي او شاوخوا لس خپلواکې رادیوګانې خپرونې لري او همدار نګه د یو دولتي او یو ازاد تلویزیون هم شپه او ورځ ۱۶ ساعته بېلابېلې خپرونې، چې زیاتره یې په خوست کې تولیدېږي فعالیت کوي، د ترڅنګ یو شمېر مجلې، اونیزې، مهالنۍ او د مل احساس په نامه یوه ورځپانه چاپیرۍ.

د جرګو په نامه یو کور هم د والي لخوا جوړ شوی، چې زیاتره وخت قومي مشران په کې د خوست د قومي مسایلو او ملي موضوعاتو په اړه له خوست والي او نورو چارواکیو سره په کې ناسته او ولاړه کوي او همدار نګه د خوست والي په اونۍ کې یوځل د ولایت له خبریالانو، لیکوالو، شاعرانو او نورو فرهنګیانو سره د مطبوعاتو د ښوالي په موخه ناسته کوي.

د خوست والي په نوښت د ۱۳۸۹ کال په وروستیو کې یو پلاوی، چې په کې د ولایتي شورا، د خوست د بېلابېلو ادارو، د مدني ټولنو، ژورنالېستانو، قومي مشرانو او د بېلابېلو ټولنو استازي شامل و، کابل ته د خوست لپاره له اړوندو وزارتونو څخه د پروژو د ترلاسه کولو او له مرکزي دولت څخه د بودیجې د زیاتوالي د غوښتنې په موخه تللی و. دغه پلاوي د کابینې له ټولو وزیرانو سره په خوست کې د پروژو د زیاتوالي په اړوند خبرې وکړې او له ولسمشر حکمت کرزي سره یې د خوست ولایت لپاره د ځانګړې شوې بودیجې د زیاتوالي غوښتنه وکړه.

مرکزي دولت د خوست د مقام دا نوښت وستایه او ویې ویل، چې دوی ډاډ ځای دی چې په خوست کې داسې اداره رامنځ ته شوې، د زیاتو پروژو د پلي کېدو غوښتنه کوي.

د خوست د مشر تابه دغه نوښت د کابل په بېلابېلو رسنیو کې د پام وړ سرلیکونه جوړ کړل.

ستاینلیکونه:

په خوست ولایت کې ۳مخ

حملات انتحاری خلاف آموزش های دینی

جاوید " روستا زاده "

دین و آیین اسلام به عنوان جامع ترین، کامل ترین و آخرین دین به منظور رهنمایی جامعه بشری در تمام عرصه های زنده گی انسان، اعم از امور دنیوی و اخروی از جانب خداوند متعال عنایت گردیده است که طبق ارشادات و رهنمود های آن تمام امور زنده گی خویش را میتوان به صورت عادلانه و انسانی سروصورت بخشید.

دین مقدس اسلام به هیچ کس اجازه نمیدهد که بدون موجب یک انسان، انسان دیگر را به قتل برساند و یا انتحار کند چنانچه در قرآن کریم خداوند عزوجل می فرماید: "کسانیکه مومنان را به قتل میرسانند جزای آنها جهنم است برای همیشه. "

اما دراین اواخر، دشمنان اسلام به این نوع حملات خود افزوده و می خواهند که رعب و وحشت را در میان مردم به ویژه شهرهای افغانستان دامن زنند حملات انتحاری که در این اواخر در کابل انجام یافته بیانگر همین نگرش دشمنان اسلام است که تلفات زیاد مردمان ملکی را سبب شده است. این نوع اقدامات آیا به اصول و اساسات اسلامی برابر است؟ این سوالی است که عالمان دینی بعد از ارزیابی باید به آن پاسخ ارایه دهند.

اما مقامات نیروهای امنیتی افغانستان به این باورند که دشمنان اسلام در افغانستان مواجه با شکست شده و از روی ناچاری، دست به عمل انتحاری می زنند. مخالفان با اجرای حملات انتحاری هیچگاهی به اهداف استراتیژیک خود دست نمی یابند ونخواهند یافت.

به گفته این مقامات مخلفان از وضعیت یک گروه شورشی خارج شده و تبدیل به یک جریان تروریستی شده اند و قربانیان حملات آنها عمدتاً افراد غیرنظامی است که صدها تن را به کام مرگ می کشاند و هزاران نفررا در ماتم می نشانند.

مخالفان در سا لهای گذشته به هیچ پیروزی بزرگ و دراز مدتی درافغانستان دست نیافته اند و بیشتر ص۳

استخبارات پاکستان ...

به نوشته روزنامه، این گفت و شنود در حقیقت حالت نازک غیر عادی روابط میان دو کشور متحد ضد تروریزم را منعکس می سازد که بعد از قتل دو پاکستانی توسط یک قرار دادی ادارهٔ استخبارات ایالات متحده امریکا به پایین ترین سطح خود نزول کرده است.

مایک مولن لوی درستیز ایالات متحدهٔ امریکا در یک مصاحبه با یک شبکه تلویزیون خصوصی جیو گفت: زمانیکه با اشفاق کیانی ملاقات کردم، موضوع داشتن ارتباط عناصر ادارهٔ استخبارات پاکستان را با شبکه حقانی هم با او بحث کردم.

به نوشته روزنامهٔ واشنگتن پست، اشفاق کیانی بعد از ملاقات با مایک مولن در یک اعلامیه یی بدون ذکر شبکه حقانی، گفته است هر دو طرف مصمم هستند تا نگذارند این روابط متلاشی شود.

در اعلامیه هم چنان از اقدامات حکومت پاکستان در مبارزه علیه گروپ های مختلف شورشیان و تند روان اسلامی دفاع شده است. اشفاق کیانی لوی درستیز پاکستان در اعلامیهٔ از دوام حملات طیارات بی پیلوت امریکایی در پاکستان انتقاد نموده است. حملات طیارات بی پیلوت اکثراً وزیرستان شمالی را مورد هدف قرار می دهد، جاییکه پایگاه های شبکه حقانی در آن قرار دارد. پاکستان از مدت ها به این طرف با حمله طیارات بی پیلوت مخالفت کرده و آنرا تجاوز به حق حاکمیت ملی خود می داند، اما بسیاری به این باور اند که پاکستان حد اقل با بعضی از این حملات مخفیانه همکاری می نماید.

قرار یک گزارش دیگر جنرال مایک مولن بعد از سفر خود به پاکستان وارد افغانستان گردید تا با مقام های دولتی افغان نیز ملاقات نماید.

قرار اعلامیه ریاست جمهوری افغانستان، حامد کرزی رییس جمهور با امیرالبحر مایک مولن لوی درستیز اردوی امریکا و یک هیات از سناتوران امریکایی در ارگ ریاست جمهوری ملاقات های جداگانه داشت.

اعلامیه ریاست جمهوری افغانستان می گوید، نتایج مذاکرات اخیر هیات بلند رتبه رهبران پاکستان در کابل و انتقال مسوولیت ها به نیروهای افغان در این ملاقات مورد گفتگو قرار گرفت.

اعلامیه ریاست جمهوری می افزاید که لوی درستیزاردوی امریکا به رییس جمهور افغانستان اطمینان داد که واشنگتن متعهد همکاری های دراز مدت با افغانستان بوده، در انتقال مسوولیت ها به نیروهای افغان، آشتی با مخالفین و تجهیز نیروهای افغان کمک می کند.

همچنین رییس جمهورافغانستان دریک ملاقات جداگانه دیگر با یک هیئات سناتوران امریکایی در مورد انتقال مسوولیت ها به نیروهای افغان و مذاکرات اخیر رهبران پاکستانی در کابل گفتگو کرده است.

همکاری های دراز مدت واشنگتن با افغانستان و مبارزه علیه فساد اداری نیز در این ملاقات رییس جمهور کرزی با هیات سناتوران امریکایی به رهبری سناتور میچ مکانیل مورد بحث قرار گرفته است.

روسیه در آستانهٔ ...

کرد که در آن بخش های زیادی از صنعت رها شده است . رهبر حزب کمونیست روسیه به ویژه به بخش تولیدات صنایع ثقیل اشاره کرد که روسیه درسال گذشته هفت فروند هواپیما تولید کرده است درحالیکه در دوره شوروی هرسال ۱۵۰۰ فروند هواپیما از انواع مختلف از کارخانه های روسیه تولید می شد. به گفته زیوگانف، هشتاد درصد از روس ها که کار می کنند با پنج هزار تا هفده هزار روبل(بین صد وبیست تا چهارصد یورو) در ماه گذران زنده گی می کنند. درحالی که دولت روسیه نوسازی را از اولویت های خود اعلام کرده است زیوگانف تاکید کرد: این یک زنده گی بین گرسنگی و بدبختی است. چنین مردمی نمی توانند این دوره را تحمل کنند. رهبر حزب کمونیست روسیه در تلویزیون ملی این کشور اعلام کرد خود را برای انتخابات ریاست جمهوری سال ۲۰۱۲نامزد خواهد کرد.

حملات انتحاری خلاف ...

از این قادر نیستند که توانایی های نظامی خود را افزایش دهند و به عنوان یک گروه پرقدرت با نیروهای امنیتی افغان مقابله کنند.

با نزدیک شدن فصل گرما که عمدتاً مخالفان از تحرک نظامی شکست خورده اند، اقدام به حمله های انتحاری و انفجاری در افغانستان نموده تا از این رهگذر، وضعیت امنیتی را خراب و مردم بیچاره که بخاطر پیدا نمودن لقمه حلال مشغول کار و غریبی می باشند دچار تشویش و نا آرامی نمایند. این قسم حملات، عمدتاً تلفات مردمی را به دنبال دارد. چنانگه حادثه چند روز قبل درولایت کندهارکه باعث قتل قوماندان آنولاوتعداد دیگری از افراد ملکی و عمدتاً متعلمین مکتب و... بود که، ازجمله خونین ترین واقعه انتحاری محسوب میگردد که توسط تروریستان به وجود آمد. این تروریستان از طریق سرحدات پاکستان داخل خاک افغانستان می شوند و حکومت پاکستان باید درک کند که پدیده تروریزم آفتی است که هم اکنون دامنگیر پاکستان هم گردیده و آن کشور را نیز به چالش کشانده است. پس از واقعه لال مسجد، پیمانی که میان حکومت پاکستان و گروه های افراطی تروریستی وجود داشت، شکست و افراطیون دست به اقدامات گسترده تروریستی علیه حکومت پاکستان زدند و علاوه بر تصرف قسمت هایی از مناطق سرحدی، عملیات های انفجاری و انتحاری در آن کشور را شدت بخشیدند به گونه یی که حکومت آن کشور را تحت تأثیر قرار دادند.

بناءً دولت افغانستان و پاکستان مشترکاً در مبارزه با تروریزم همگام وهم نظر باشند تا ریشهٔ این پدیده بدنام را به زودی از سطح این دوکشور بخشکانند.

خوست په تېر یوه ...

د ښه کار او په ستونزمنو شرایطو کې په کلک هوډ سره د والي عبدالجبار نعیمي د زیات او ښه فعالیت او د قومونو ترمنځ، د حکومت او ولس ترمنځ، د بشر د حقونو په برخه کې د روغتیايي اسانتیاوو رامنځ ته کېدو په برخه کې، دشفاف حساب ورکونې په برخه کې او په یو شمېر نورو برخو کې د خوست والي په ستاینلیکونو نازول شوی دی.

د مشرانو جرګې لخوا ددغه جرګې د مخکښ رییس صیغت الله مجددي له خوا یو ستاینلیک ورکړل شو، ورپسې د خوست د ولسونو په استازیتوب د قومي مشرانو لخوا د سروزرو مډال او ستاینلیک ورکړل شو، د بشري حقونو د خوندیتوب او په دې برخه کې د زیاتو هڅو له امله د بشر حقونو د خپلواک کمېسیون له خوا یو ستاینلیک ورکړل شو، د خوست خلکو ته د روغتیاپه برخه کې د اسانتیاوو د برابرولو په برخه کې د عامې روغتیا وزارت له لوري یو ستاینلیک ورکړل شو، دغه رازه د شفافیت په برخه کې د اشیا فوندېشن له خوا ستاینلیک ورکړل شو، د پوهنې په برخه کې د پوهنې د وزیر له خوا او د خوست د ولایتي شورا ستاینلیکونه هم ورکړل شوي دي، چې دا د خوست والي او ددغه ولایت د خلکو لپاره ویاړ دی. دغو ستاینلیکونو د خوست د والي کاري هوډ یو پر دوه زیات کړ او ژمن شو، چې په نوي کال کې به ددې ولایت په ټولو برخو کې د متوازنې بیارغونې لړۍ پیلوي او ددې ولایت د ولس په ملاتړ به د امنیت کچه هغه حد ته رسوي، چې ددغه ولایت ښار امنیتي چارې په بشپړه توګه افغان ځواکونو ته وسپارل شي. **پای**

دخوست بیا رغونې دلې — اوسنۍ پروژې

دغوښتنې منبع	دپروژې نوعیت	ولسوالي	وضعیت
ایتلافي ځواکونه	د باک دولسوالۍ ترمیم	باک	داوطلبۍ ته وړاندې شوې
دپروژې د نامزادۍ فارم	د بوریخیلو استنادي دیوال	ګربز	قرارداد امضا شوی
ایتلافي ځواکونه	د میلمستون سرسبز ساحه	متون	دپروسې حالت کې ده
دسپورټ رییس	د کریکټ د سولې مسابقه	متون	دپروسې حالت کې ده
ولایتي اداره	د ولایت د مرسستیال د کور ترمیم	متون	قرارداد امضا شوی
دپروژې د نامزادۍ فارم	د دور نامیو د ښو نخبې لټرین او د اوبو ځاه	مندوزي	قرارداد امضا شوی
دپروژې د نامزادۍ فارم	د درګي د اوبو شبکه	تاني	قرارداد امضا شوی
دپروژې د نامزادۍ فارم	د دومندو ځاګاني	دومندو	قرارداد امضا شوی
دپروژې د نامزادۍ فارم	د ګربز د پټلانو سړک	ګربز	دپروسې حالت کې ده
ایتلافي ځواکونه	د ګلام خان اقتصادي ساحه	مختلف	انکشافي
ولایتي اداره	د والي صاحب د کمپلیکس ساتنه	متون	قرارداد امضا شوی
دپروژې د نامزادۍ فارم	د حسن کوټ ښوونځی	متون	قرارداد امضا شوی
دپروژې د نامزادۍ فارم	د هسپتال سړک	مندوزي	قرارداد امضا شوی

چاپې اچول او د شپې عملیات ...

کړی، دوی ډېر ځلې خلک په سپیو باندې دارلي هم دي، چې څوکاله مخکې د خوس ولایت پېښه یې څرګنده بهلګه ګڼلی شو. همداشان په سپیو باندې یې نارینه او ښځې تلاشي کړي، ښځو ته لاس اچولی، نارینه وو ته یې سپکاوی کړی او په ډېر بد حالت یې د خپلو کورنیو په مخکې یا بې عزته کړي او یې هم له ځانه سره بهولي او یا یې هم وژلي دي. دا او دې ته ورته ډېرې داسې کړنې یې ترسره کړي، چې دانساني کرامت او بشري اصولو سره هېڅ سر نه خوري، سره له دې چې دوی (غربیان) په نړۍ کې ځانونه د بشر د حقونو اصلي ساتونکي هم بولي!.

زمور ټولنه چې یوه اسلامي، سنتي او پر انساني ارزښتونو ولاړه ټولنه ده، دا ډول کړنې ورته یوه لویه فاجعه او یو لوی جرم ښکاره او عاملینو ته یې هم ستر و جنایتکارانو او مجرمانو په سترګه ګوري. په دې توګه د لوېدیځو پوځونو دا ډول کړنې چې په دې هېواد کې یې ترسره کوي، د عام ولس احساسات راپاروي او د خپل دین، ننګ او ناموس د ساتنې لپاره هر ډول قربانۍ او سرښندې ته په خلاص زړه چمتو کېږي، ځکه د افغانستان مسلمان ولس ته دین، وطن او ناموس هغه څه دي، چې د ساتلو او دفاع لپاره یې هر ډول مالي او ځاني قربانۍ ته تیار دي.

په دې توګه په افغانستان کې د دوی له خوا دا ډول کړنې، چې تر ډېره بریده له افغان دولت سره همغږي هم نه لري، یانې په خپلسر یې ترسره کوي، د افغانستان د شرایطو، ټولنې او نورو دودیزو مسایلو، اصولو، مقرراتو او قوانینو خلاف کار دی او ولس یې په کلکه غندنه کوي. په دې توګه دغه ډول عملیات چې تر ډېره د ناسمو معلوماتو پر بنسټ او له افغان دولت سره په ناهمغږۍ په خپلسرې توګه ترسره کېږي او په ترخ کې یې تر ډېره بې ګناه ملکي وګړو ته مرګ ژوبله، بې عزتي او سپکاوی پېښېږي، نو اړینه ده، چې د دا ډول عملیاتو مخه ونیول شوي، ځکه دا د دې پر ځای چې غوره پایلې ولري او جګړې ته د پای ټکی کېږي، ناوړه پایلې زیږوي او دا ناوړه پایلې د جګړې د غښتلتیا او تودېدو لامل کېږي. **نسیم بریال**

ناټو د یوه ساختماني شرکت ...

او یو بل ټپي دی. هغه وایي، چې شرکت یې د خوست تر سپیرې ولسوالۍ پورې د غځیدلي سړک د پخونې چارې ترسره کوي او په همدې موخه یې د وسایطو د ساتنې لپاره د لارې په اوږدو کې امنیتي پوستې جوړې کړي، چې له هیڅ یوې مخالفې ډلې سره اړیکې نه لري. خو په سوېل ختیځ زون کې دایساف ځواکونو مطبوعاتي دفتر پژواک ته وویل، چې یو شمېر وسلوالو وړمه شپه د سپیرې ولسوالۍ اړوند سیمه کې د دوی پر چورلکو ډزې وکړې. د سرچینې د معلوماتو له مخې، دایساف ځواکونو په ځواب کې ځلور وسلوال وژل شوي دي.

دنهه زره ولسي وګړو وژل...

ملي امنیت او بهرنیو ځواکونه په کې په احتیاط سره پېښې څاري، دا ارګانونه روان کال ته نوي پلانونه لري، چې له پلي کېدو سره به یې ستونزه کمه شي."

یونما او کورنیو چارو وزارت وایي، د ملکي خلکو وژنه د وسلوالو مخالفینو په بریدونو زیاته ده، خو وسله مخالفینو په انټرنټ پانو کې له دې راپورونو سره مخالفت ښودلی.

دازادي راډیو د راپور له مخې، کارپوهان وایي، د عملیاتو په وخت کې د افغان او بهرنیو ځواکونو ترمنځ د هماهنګي نشتوالی، ناسم راپورونه او غلط تشخیص د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې یوازېنی سبب دی، چې په جنګ کې د دواړو ښکېلو اړخونو له خوا ورته پاملرنه نه ده شوې.

خوست په تېر يوه کال کې

دويمه برخه:

د باتور ليکنه

بله موضوع، چې په خوست کې ډېره مهمه ده، هغه د يوه ډاډمن امنيت رامنځ ته کول دي، چې زياتو قربانيو، لګښتونو، بې همغږۍ، د سر تېرو تجهيزاو سمبالتيا، دولس بشپړې همکارۍ او بنه مديريت ته اړتيا لري، چې له نيکمرغه له کومې ورځې (۱۳۸۹ دوري له ۱۵) چې کله نعيمي د خوست دوالي په توګه دغه ولايت تللی په ياد ولايت کې وسلوال ډلیز ځانمرګي بريدونه، نه دي شوي او له لسو زيات ځانمرګي او موټر بم بريدونه له کېدو مخکې د امنيتي ځواکونو له خوا شنډ شوي او عاملين يې نيول شوي، په لسګونو د سړک د غاړې لوی او واړه ماينونه مونډل شوي او څو وسلوال ګروپونه له بريدونو مخکې د افغان او بهرنيو ځواکونو لاس ته لوېدلي او نورې پټې شبکې او کړۍ افشا او نيول شوې دي.

يو کال مخکې د خوست ولايت اداره او امنيتي ځواکونه په دفاعي حالت کې وو، خو اوس په تعرضي حالت کې دي او د خوست تر پولو پورې، چې له شمالي او جنوبي وزيرستانو نو سره نښتې دي د امنيت لمن پراخه شوې.

له يو کال مخکې څخه د خوست د امنيتي پېښو په کچه کې اويا فيصده کموالی راغلی او کومې پېښې، چې کله رامنځ ته کيږي د هغو د مخنيوي لپاره هم هڅې ګړندۍ شوې دي.

په خوست کې د يو زيات شمېر انسان تښتونکو ډلې، چې د خوست امنيت يې له ګوابښ سره مخ کړی و نيول شوي او ترڅنګ يې په سلګونو خپلسري وسلوال بې وسلې شوي او په سلګونو ميله سپکه او درنه وسله د ډاياګ پروګرام ته سپارل شوې، چې د مسلې هم د امنيت په بنه والي کې مثبت رول لوبولی او اوس په خوست کې سوداګر په ډاډه زړه خپلې سوداګريزې چارې په مخ بيايي او د تښتولو وېره نه محسوسوي.

مخکې د وسلوالو له وېرې د خوست ځوانانو په ملي اردو او ملي پوليسو کې شاملېدو ته زړه نه بنه کاوه، خو اوس په دې ولايت کې د امنيت په بنه کېدو او وسلوالو په ځپلو سره د دې ولايت په سلګونو ځوانان هره مياشت په پوليسو او ملي اردو کې د شاملېدو په موخه د دغو ځواکونو ليکو ته ځي.

د امنيتي وضعې له بنه کېدو سره په دې ولايت کې د قيمتي ډبرو د قاچاق او د ځنګلونو د وهلو مخه نيول شوي او امنيتي ځواکونه په دې توانېدلي، چې په دې ولايت کې د غلا غديو او هر ډول قاچاق مخه ونيسي او عاملين يې د قانون منګولو ته وسپاري.

اوس د خوست ولايت د امنيت له بنه کېدو سره، چې د خوست دوالي د کاري لومړيتوبونو په سر کې و، د پکتيا، لوګر، ميدان وردګو، کابل او يو شمېر نورو مرکزي ولايتونو امنيتي حالت هم بنه شوی، ځکه چې اوس د دولت وسلوال مخالفين په اساني سره نشي کولی، چې د خوست ولايت ته داخل او له دې لارې يادو ولايتونو ته ننوځي، ځکه چې د خوست په سرحدونو کې يا وژل کيږي او يا نيول کيږي.

اوس د خوست – کابل لار هم د خوست ولايت په سيمه کې پوره ډاډمنه ده او امنيتي ځواکونه شپه او ورځ ګزمې کوي او ورنکاري نه پرېږدي، چې د دې لارې تلونکو او راتلونکو مسافرو ته ستونزې جوړې کړي.

يوه بله مهمه ستونزه، چې هم يې د خوست ولايت په ناامنيو او هم يې د خوست په ولسونو کې د بې اتفاقۍ او تباهۍ کې اساسي رول درلود، هغه د دولتي ځمکو او ملکيتونو غصب و، چې يو کال مخکې اوج ته رسېدلی و او د خوست زياتره قومونه په کې رابښکېل او هره ورځ به يو شمېر ځوانانو خپل سرونه بې ځايه قرباني کول او ثمره به يې ځوتش په نامه قومي مشرانو خوړه.

د خوست ولايت د کرنې رياست د معلوماتو له مخې، چې په خوست ولايت کې بېلابېلو اشخاصو د زور او زر په وسيله ۵۵ زره جريبه دولتي ځمکه غصب کړې، چې دغه ځمکه زياتره د خوست ولايت د کرنې رياست پورې اړونده ده.

په خوست کې دولتي دښتې خو لاځه چې ان دولتي باغونه، او په خوست بنار کې د دولتي رياستونو هغه ملکيتونه چې د دې رياستونو د پراختيا لپاره په بنار کې ورته ځمکه بېله شوې وه، هم غصب او غاصبينو پرې د لوړ پوړيزه ودانيو د جوړېدو پلانونه جوړ کړي و.

د دولتي ځمکو غصب په خوست بنار کې د پروژو د پلي کېدو پر اندې يو لوی خنډ دی.

ځمکو د غصب تخم چې هر چا په خوست کې کرلی موخه يې دا وه، چې دغه شمله ور ولس په خپلو منځونو کې په جګړو او وژنو بوخت کړي او ونشي کولی چې دوی له مرکزي دولت سره چې هغه د دغه ډول مېرنيو ملاتړ ته سخته اړتيا لري، نږدې اړيکې ولري او يا د مرکزي دولت ملاتړي واوسي.

د دې پرځای چې د خوست غيرتي ولس له يوې خوا د مرکزي دولت تر شاه ولاړ وي او له بلې خوا له مرکزه خپل حقه حقوق ترلاسه کړي، دوی په خپل منځ کې د ځمکو پر سر د يوه او بل وينو تويولو ته کښېناستل او د دښمن هغه شوم پلان چې څنګه يې غوښت هغسې يې پلی کړ.

خو د خوست والي عبدالجبار نعيمي د دغې شومې پديدې د له منځه وړلو لپاره کلک هوډ وکړ او ژمن شو، چې دغه ولس به له خپلمنځي شخړو او د ځمکو د غصب له ناروغۍ څخه خلاصوي او دوی به د مرکزي دولت د کلکو ملاتړ کوونکو ترڅنګ د مرکز له حقه حقوقو څخه هم برخمن کوي.

والي د بېلابېلو قومونو له مشرانو، علماوو، جهادي قوماندانانو، د مدني ټولنو له استازيو، ځوانانو، فرهنګيانو او امنيتي ځواکونو سره تر زياتو خبرو اترو وروسته پرېکړه وکړه، چې لومړی به په خوست کې د ځمکو غصب ته د پای ټکی ږدي، ورپسې به هغه قومونه چې ان له اتيا کلونو او يا تر دې کم چې د دولتي ځمکو د غصب په موخه يې وسله اخيستې او په خپلو منځونو کې يې يو او بل ته سنګرونه ټيولي د خبرو اترو له مخې او که چا خبرو ته غوږ نه ايښوده، نو بيا به يې د نظامي لارې بې وسلې کوي او د قانون په رنا کې به ورسره چلند کيږي.

د خوست والي د يوه نظامي کمېسيون له لارې (ملي اردو، ملي پوليس، سرحدي پوليس، ملي امنيت او دايساف ځواکونه) په خوست کې ټول هغه قومي اربکي، چې د ځمکو د غصب په موخه يې وسله اخيستې وه او په بېلابېلو قومونو پورې يې تړاو درلود، د بې وسلې کولو اعلان وکړ، د شاوخوا يوې مياشتې په ترڅ کې دوه زره قومي اربکي بې وسلې، سنګرونه يې ويجاړ او مخورې د خبرو لپاره راجلب شول.

د دې اربکيو ۵۰۰ ميله سپکه او درنه وسله د ډاياګ پروګرام ته وسپارل شوه او يا دو اربکيو ته په ملي پوليسو او ملي اردو کې د جذب بلنه ورکړل شوه، چې د هېواد په نورو سيمو کې د امنيت په ټينګښت کې برخه واخلي.

په دې قومونو کې، چې د غصب شويو د ځمکو په سر يې سره شخړې درلودې، مقبل، منګل، شمل، ګربز، کوچيان، صبري، ترمنځ د جوړجاړي او د قومي اربکيو دېې وسيلې کولو له امله د دې ولايت دامنيت په بنه والي کې د پام وړ بنه والی راغلی او د نا امنيو يو زيات شمېر پېښې کنټرول شوي او د دښمن او عامو وګړيو تو پير ډير اسانه شوی دی.

د بيارغونې د پروژو د پلي کېدو لمن پراخه شوې، د ولس پام د اداري جوړېدو او د نظام ټينګښت ته اوښتی.

اوس خلک د خوست په اداري باوري شوي، چې دلته حکومت او نظام شته او د خپلو ورځينو ستونزو د حل او د بيارغونې د پروژو د پلي کېدو په موخه ډلې ډلې خلک د خوست ولايت مقام او نورو اداروته ورځي او خپلې غوښتنې او پلانونه ورسره شريکوي.

اوس د خوست اداري هم د سهار له اتو بجو د مازيګر تر څلورو بجو پورې د خلکو د ستونزو د هواري په موخه خلاصي او وخت ناوخته د ولايت د مقام له لوري يې نظارت کيږي، له اداروڅخه د خلکو د شکايا تو لپاره د ليکونو صندوقونه او د ټېلېفونونو ځانګړې شمېرې د خلکو په واک کې ورکړل شوې دي.

د خوست په اداروکې د يو شمېر مسوولينو په ګډون هغه کارمندان چې په اختلاس او رشوت کې لاس درلود له دندو لرې شوي او عدلي او قضايي ارګانونو ته سپارل شوي او د دغه ډول کارمندانو د پېداکولو، ګوښه کولو او عدلي او قضايي ارګانونو ته د هغوی د سپارلو لړۍ د شواهد په لرلو سره دوام لري.

هغه کارمندان، چې د اداري د جوړېدو او د وطن دوستۍ احساس لري او په خلاص مټ کار کوي، هغوی ته مکافات ورکړل شوي، د کاري ظرفيتونو د لوړولو په موخه يې روزنې پېل شوي او دفتري اسانتياوې ورته برابرې شوي او د دغه ډول کارمندانو د ژوند د بنه والي په موخه هڅې روانې دي.

۲مخ

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

اراده ورځپاڼه يوازې د سر ليکنې ننګه کوي، نورې ليکنې د ليکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه يې مسوليت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قيمت يک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امريکايی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امريکايی

مرکز نشرات افغان
روزنامۀ ملی اراده
موسس و صاحب امتياز: حاجی سيد داؤد
مدير مسوول: خادم احمد
موبايل: – ۰۵ ۵۹ ۶۲ ۰۷۰۰
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتيار
موبايل: – ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: – ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com